# تمدن او د هغه لار

نن په نړۍ کښې تر هرڅه د تمدن ږغ ډېر اروېدل کیږي، د ملتو د لوړتیا او د اولسو د هسکتوب لار دغه تمدن ګڼل کیږي، ټوله اولسونه په دغه لار کښې زیار کاږي، زموږ په مطبوعاتو کښې هم دغه کلمه ډېره لیدله کیږي، پښتانه خو اوس غواړي چې مدنیت وپېژني، او پر دغه لار د سیالانو سره سم سي. نو به موږ د خپلو ورونو د پوهني دپاره پله پسې پر تمدن باندې څه څېړنه وکو، چې پښتانه وپوهیږي چې تمدن څه شي دئ؟ او څه اصول او لاري لري، او اخیستنه او درلوونه ئې څه ګټې لري؟

ګوندې موږ په دغو کرښو کښې خپلو ورونو ته څه فکري خدمت کړئ وي، دا لیك چې پښتنو ته په پښتو وړاندې کیږي، له علمي کتابو او مجلو څخه اخیستنه او اقتباس دئ :

(۱) تمدن څه شی دئ؟

تمدن عربي کلمه ده، چې اوس عرب حضارت هم ورته وایي، لغوي معنا ئې ښاروالي، او د ښار هستوګه ده. مګر په اجتماعي علم کښې تمدن هغه ښېګړي او اخلاق او هغه فضایل دي چې د یوې ډلې انسانانو د ټولني ژوندون پر ولاړ وي. په نوې دنیا کښې تمدن دوې خواوي لري، چې یوه ئې په فرانسوي سویلیزاسیون Civilzation یعني د تمدن ظواهر، او بله خوا ئې کولتور Culture یعني (معاني او دننني شیان) دي.

د فرانسوي سیویلیزاسیون خو د یوناني کلمې سیویلتیاس Civilitos څخه اشتقاق سوی دئ معنا ئې هغه د ښار هستوګه (حضارت) دئ، او ارسطو چې انسان مدني بالطبع ګڼي، هم ئې مطلب دغه دئ، د عیسوي اتلسم قرن له منځه څخه دا کلمه په فرانسوي کښې په نوي ډول استعمال سوه، مثلاً د بولانژه فرانسوي (وفات ۱۷۵۹ ع) یادداښتونه چې دغه کلمه لومړی پلا په نوي راز پکښې لیدله کیږي، وروسته نو په ۱۷۷۲ ع کښې د انګلیسي دائره المعارف دغه کلمه ذکر کړه. بیا نو د فرانسه اکاډیمی او د تروو Trovouse فرهنګ هم دغه لغت راوړی دئ، تر دغو دمخه د شپاړسمي عیسوي پېړۍ په پای کښې هم د مونتي او وروسته نو د دیکارت په لیکونو کښې دغه کلمه لیدله کیږي. د سیویلیزاسیون کله خو لمړی په دغه اوسنۍ معنا نه وه مستعمله، ورو ــ ورو ئې معنا اوښتې ده، لومړی ئې دغه کلمه په معنا د قضاوت اخیسته، وروسته نو ډیکارټ په مقابل کښې د وحشت او مونټسکیو مشهور فیلسوف د ورانیو او عیبونو مانعه وګڼله، ولټر اورینال پر ځای د ادب او دیدرو د جهل او ناپوهۍ مقابله راوړه، کندرسه د تمدن پر مخ تګ د روغي وسیله وګڼله.

اما د کولتور کلمه یا له جرمني Kultur یا له لاتیني کولتورای Cultura څخه اخیسته سوې ده چې لومړی پلا د فرانسه اکادیمی (۱۸۳۵ ع) لیکلې او داسې تعریف ئې کړئ دئ : کولتور ټوله هغه زیارونه او مجاهدات دي چې د انسان د فکري او صنعتي تکامل دپاره کار ځیني اخیستل کیږي.

اما د جرمني آډلنګ Adlung قاموس په ۱۷۹۳ ع کولتور د انسانانو د اخلاقي او روحي قوتو مجموعه ګڼي او کانټ مشهور فیلسوف ئې په عقل او حق سره ترجمه کوي، او د عمومي روغي سبب ئې بولي.

دا وې د تمدن درې خواوي، چې موږ ئې لنډ لنډ بیان وکئ، اوس به نو پر بله خوا ورته وګورو :

(۲) د تمدن پېژندنه :-

ځیني متخصصین او پوهان د تمدن فن د انسان د اجتماعي او عقلي قوتو تعادل ګڼي، ګبینو فرانسوی عالم وایي : چې تمدن ځیني رسوم او دودونه دي، او اوګوسټ کینټ ئې معنوی شی بولي، یو بله ډله بیا وایي : چې تمدن د وحشت تدریجي ورکېدنه ده، چې پنډ او بېډون عادات په نریو اخلاقو سره الیش سي، او د انسان

اجتماعي او قضايي اصول      بشپړ سي، گيزو فرانسوی عالم (۱۷۸۷ _ ۱۸۷٤ ع) چي د اروپا د تمدن تاريخ ئې کښلی دئ، تمدن دوه شيه بولي : اول د اجتماعي ژوندون خپورتيا، دوهم د معنوي ژوندون لوړتيا. دغه د گيزو تعبير خو داسي ښکاره کوي چي اجتماعيات او عقليات دواړه د تمدن اسباب دي، دی وايي : ماده او معنی دواړه د تمدن لپاره ضروري دي او د انسان عقلي او معنوي او مادي بشپړوالی نو حقيقي تمدن دئ.

هرډر جرمنی مشهور عالم ( ۱۸۰۳ _ ۱۷٤٤ ع) وايي : چي کولتور (تهذيب) د انسان د کمال پای دئ او خدای تعالی ته ئې نژدې

کوي، آډلنګ جرمنی ( ۱۷۳۲ _ ۱۸۰٦ ع) وايي : چي کولتور د

قدرت د ښکلو شيانو د تشخيص او پېژندني خوند دئ. کانټ

مشهور فيلسوف وايي چي جګړه او جنګ له انسانانو څخه ورك سي نو به هلته و حقيقي تهذيب ته ورسيږي. ويلهلم وايي : چي تهذيب (کولتور) د ملتو د فکري تاثراتو مجموعه ده، چي هر وخت تغير خوري. همبولټ جرمنی (۱۷٦۷ _ ۱۸۳۵ ع) د انسانانو مدني تشکيلات پر درې برخي

ويشي :

۱. سيويليزاسيون : يعنی د اجتماع او مادي او اخلاقي امورو خپوروالی، او د انسانانو يو د بله خپلوي او مينه، او نوع پرستي.
۲. کولتور يعنی د انسان د فکر ګڼه او لوړتيا چي د لومړي اساس ټينګار دئ.
۳. بيلډنګ Bildung يعنی د انسان د فکري او عقلي کمال پای چي انسان و خپل خدای ته بولي.

نو له دغو لوړو څېړنو څخه دا څرګنديږي چي تمدن د بدن او روح ګډه پالنه ده، يعنی هغه اسباب او حال چي بشر و بدني او روحی او علي او مادي لوړتيا ته رسوي تمدن ګڼل کيږي.

نو د انسان د اجتماع سمون، د روح روزنه، د اخلاقو پالنه، د مادي شيانو لوړتيا، د صنعت ترقي، د احساساتو روغوالی، او بالآخر هغه چي د ده دنيا او عقبا ورسمه کړي حقيقي تمدن دئ و بس.

(۳) تمدن څنګه شروع کيږي؟

که تمدن د انسانانو د ټولني ژوندون وګڼو، نو له هغه وخته چي انسانانو په ګډه ژوندون کړئ دئ، تمدن هم شروع سوئ دئ، لومړی خو د ژوندون اړتياوي، چي انسانان يو له بله وګډ ژوندون ته اړ باسي، چي په وير او ښادي او ښه حال او بد حال کښي سره شريکان وي، روسو د فرانسه فيلسوف خو هم د انسانانو اجتماعي ژوندون علت پخپل کتاب کښي چي د (ټولني تړون) social contact ئې نوم دئ داسي ښيي : چي انسانان دپاره د خپلو اړتياوو و ټولني ته اړ سوه، نو دوی سره راغونډ سوه، او په خپل منځ کښي ئې د ټولني يو تړون وکئ. ولي چي يوه سړي بېل له نورو څخه د خپل ژوندون لوازم او احتياجات نه سوای سره ټولولای. نو په حقيقت کښي خو د انسان د ژوندون خپلي اړتياوي دي چي دی و ټولني او تمدن ته اړ باسي او تمدن د انسان د اجتماعي احساس او د ټولني د ژوندون سره شروع کيږي.

(٤) د تمدن ډولونه :-

تمدن هم لکه نور د ژوندون مسايل د خپل چاپېر (محيط) تابع دئ، هر څومره چي چاپېر بېليږي، تمدن هغومره ډولونه مومي، مثلاً : مادي تمدن، معنوی تمدن، زوړ تمدن، نوی تمدن ... دا خبره له ډېرو پېړيو څخه د پوهانو تر څېړنه لاندي ده، چي آيا تمدن معنوي دئ که مادي؟

له ابتداء څخه چي فلسفه په انسانانو کښي پيدا سوې ده، ځني پوهان تمدن يو معنوی شی بولي او په حيات کښي د معنی سيله کونکی دئ، دا فلاسفه معنويون يعنی د معنی طرفداران Idealists بولي، دوی وايي چي نړۍ ټوله معنی ده، او د معنی وړانګي دي چي جهان ئې ټوله روڼ کړئ دئ، او انسان و کمال او لوړتيا ته

بولي.
د دې ډلې په مقابل کښې يوه بله ډله هم سته چې ماديون ئې بولي Matarialists چې دوی د طبيعي علومو او رياضي څخه کار اخلي، او په دنيا کښې يوازې ماده د ګټې خوا ګڼي، او وايي انسان دي د ژوندون د سموالي دپاره هر کله د مادي علومو څخه استفاده وکي، له دغې ډلې څخه په اتلسمه عيسوي پيړۍ په اروپا کښې ډېر وه، مګر د دې دوو ډلو له اثارو څخه داسې ښکاره کيږي، چې دوی په مطلب کښې سره ملګري دي ولې چې دوی د حقيقت د پوهنې دپاره له عقل او تجربې او حس او ذهني استعداد دواړو څخه کار اخلي، يعنې معنی او ظاهر دواړه د انسانانو د لوړتيا او تمدن اساس ګڼي ولې چې دغه د انسان باطني او ذهني استعداد دئ چې لوی ښتن په خپل قدرت د ده په خاوره اخښلی دئ او دغه باطني او ذهني استعداد له مادي څخه هم ګټې اخلي.
نن ورځ د دنيا خورا عجيب او خارق العاده ماشينونه او اختراعات ټوله د انسان د فکر او باطن په قوت سره منځ ته راغلي دي. نو صحيح او سم تمدن هغه دئ، چې معنی او ماده يعنې باطن او ظاهر دواړه برخه پکښې لري ولې که يوازې ماده د تمدن سټه وګڼل سي نو ماده خو هم يوازې بېله باطني ښېګړو کار نه سي ورکولای او ورو ـ ورو ورکيږي. که څه هم نن ورځ په نړۍ کښې مادي تمدن غالب سوی دئ مګر پوهان چې د غور په سترګه ورته ګوري يوازې د مادي تمدن پای وران بولي.
نو که د تمدن حقيقي لوړتيا او رښتينی خوا غواړئ خو دغه ده چې د مادياتو او معنوياتو تعادل پکښې مينده سي او له افراط او تفريطه راوګرزي، چې دغه معتدل تمدن نو موږ اسلامي تمدن بولو، او دا هغه لار ده چې انسانان له يوې خوا د ماديت له وحشيګرۍ څخه راګرزوي او له بلې خوا ئې د معنويت له افراطه ژغوري، چې لا رهبانيه في الأسلام.
(۵) ټولنی ژوندون :-
لکه موږ چې دمخه و ويل هيئت اجتماعي خو طبيعي عواملو او د انسان مدني فطرت جوړ کړئ دئ چې جامعه وميندله سوه نو د دې د ساتنې او سموالي دپاره هم ځيني مقررات او قواعد لازم دي، چې دا قواعد نو هر کله د انسان ژوندون تر قيد او ضبط لاندې راولي، دغه قواعد نو هغه رسوم او آداب دي چې د انسان ټولنی امور ورسموي. او د ده د ژوندون په سموالي کښې کومك ور رسوي. ځکه دا رسوم او آداب د زمانې او چاپېر (محيط) پر اقتضا سره اوړي، او هر کله تغير او تبديل کوي. نو د انسان د حال سره سم هر نوي اصول او نوي د ژوندون دودونه زيږي او ورځ په ورځ بشپړ کيږي. د اوسنيو انسانانو د ژوندون اصول او لارې د تيرو پېړيو څخه پاته سوي او ورو ـ ورو اصلاح سوي او اوس په بشپړ ډول راوتلي دي نن ورځ متمدن اولسونه او ژوندۍ دنيا په ژوندون کښې ډېر خواص او ښېګړې لري، چې هغه نو د دوی د تمدن او لوړتيا سبب دي او د دوی د ټولني ژوندون پر ولاړ دئ، موږ بې ځيني مهم مواد لاندې بيان کو :
الف ـ د تفکر او کار ډول :-
نن د اروپا او د ويښو ملتو د لوړتيا لوی سير دغه دئ، نو ښايي چې موږ هم پر دې باندې تر هر څه دمخه څېړنه وکو، مغربي وګړي د تفکر او تعمق په خوا کښې آزاد دي، او ټوله چارې او کار او عمل ئې پر يوه سمه رشه (متډ) باندې بنا دي، متډ يعنې سم روش علاوه پر سوانۍ انسان د کار د کړن و نوو خواوته هم رابولي. بيکن انګليس (۱۵۶۱ ـ ۱۶۲۶ ع) او ډيکارټ فرانسوی (۱۵۹۶ ـ ۱۶۵۰ ع) د متډولوژی اېښوونکي دي.
مغربيان د کار د کړلو دمخه د کار ډول او مقدار او کيف او نتيجه په ذهن کښې وسنجوي، وروسته نو اقدام کوي له دغه جهته نو هم په دغه دوو وروستنيو پېړيو کښې دومره نوي اختراعات او اکتشافات انسانانو کړي دي چې دمخه په زرکاله لا هم نه وه سوي. سبب ئې دا دئ چې د زړو انسانانو کشفيات پر تجربه يا تصادف بنا وه، مګر اوسني انسانان فقط په متډ او روش کار کوي. موږ تل زيار کاږو مګر په کار کښې يوه سمه لار او روش نلرو،

نو ځکه په پای کښې سترې سو، او مادي او معنوي قوتونه مو په کار کښې ولاړ سي، کټه هم ونه کو، بالعکس مغربي خلك دکار تر پيل دمخه يو وار د هغه مقدار او نتيجه سنجولای او ويلای سي.

يوازی متډ او سليقه هم د انسان د ژوندانه ټوله سختی نه سي ورکولای بلکی يو بل متمم هم غواړي چي هغه نو د انسان فطري استعداد او د عقلي قوتو اعتدال دئ، د خاوند په لوی قدرت او د دنيا په اسرارو هغه وخت سړی پوهيږي، چي فطري ذکاوت او د ذهن تېره والی د عقل او سمي رشې اومتډ سره ملګري وي، د فرانسې مشهور ژوندون شناس کلدبرنارډ (۱۸۱۳ _ ۱۸۷۸ ع) وايي : څوك چي فطري استعدا نه لري او متډ يعنی روش اوسليقه لري داسي دئ لکه ښه مځکه چي تخم نه لري، نو په دې ډول په کار کښې خو يو دګټي ډك او نافع طرز او متډ لازم دئ بل فطري استعداد هم غواړي.

په دې کښې هيڅ شك نسته، چي موږ د هر څه دپاره قابل استعداد لرو، معنوي قوا مو تر هر چا زيات دي، په استعداد کښې دکار تر هيچا نه پاتيږو. مګر دکار او عمل دوهم ضروري جز يعنی متډ موږ په نن ورځني ژوندون کښې ډېر لازم وي زموږ ټوله د ژوندون چاري په هغه ډول کيږي، چي له عصري ژوندون څخه ډيري ليري دي. ښايي چي موږ د مدنيت په عصري ضرورياتو کښې دا ښېګړه واخلو ولي چي زموږ ژوندون ته له هري خواګټه لري او د تمدن عصري دکار او عمل طرز او ډول ډېر پوخ دئ، چي سړی په لږ زيار ډېره ګټه ځني اخيستلای سي،

ب _ مېنه، هيواد :-

دوهم لوی ټوك د اوسني مدنيت خو د مېني مينه او د خپل هيواد او د خپل وطن محبت دئ، د وطن محبت په انسان کښې لکه فطري داسي دئ، او نن ورځ هم د وطن کلمه پر انسانانو باندي په خورا قوت حاکميت لري، د وطن تعريف په فني ډول داسي کيږي ، چي وطن د مادي او تاريخي او اخلاقي او ملي کيفياتو مجموعه ده، يا وطن هغه ټوکر خاوره ده چي طبيعي حدود لري او وګړي هستوګنه پکښې کوي، چي خپل ماثر، مذهب، ژبه، حکومت او اجتماعي يو ژوندون لري.

پخوا خلکو وطن فقط د خپلو پلرو او نيکونو د هستوګې مځکه

بلله، او هر چا د خپلو تېرو مېړو د هديرې سره مينه درلوده، زړو

يونانيانو خو د وطن کلمه په ديني شعايرو کښې ګڼه مقدسه بلله، افلاطون وايي چي د انسان ژوندون په وطن پوري تړلی دئ، سقراط خو د خپل

هيواد د قانون په منلو کښې ځان مړ کئ، په پخوانيو انسانانو کښې

د وطنه څخه شړل، خورا لو جزاء وه، نو داسي ښکاره کيږي چي د پخوانيو انسانانو د مېني مينه خورا ډېره وه، مګر اوس چي په تمدن کښې د وطن مينه سته، سبه ئې دغه ده، چي سړی هلته خپل اجتماعي حقوق او د ځان او مال د ساتني اطمينان لري، متمدن اولسونه وطن خورا ګران بولي، د وطن د ساتني دپاره تر ځان هم تېر دي، په عسکريت او اداء کېدو کښې د ماليانو او محصولاتو او په احترام کښې د اصولاتو د خپل هيواد يو تر بل دمخه توب کوي، او څو روح ئې په بدن کښې وي د خپل هيواد ساتنه کوي، او پردي نه راپرېږدي چي پر وطن دې راسي، يا په بده سترګه ورته وګوري.نن ورځ مدني انسانان ټوله د خپل هيواد دپاره ځانونه واری کوي، دوی د خپلي خپلواکی او مېني ساتنه پر ځان لمړی فرض ګڼي، او هر سړی د ټوله مملکت او اجتماع دپاره تر خپلو شخصي ګټو تيريږي.

په دغه اجتماعي احساس کښې شخصي ګټه هم پرته ده، ولي که اجتماع ترقي وکړي، طبعاً هر سړی هم ور سره لويږي، دا ډول اجتماعي ژوندون هغه د افلاطون (مدينۀ فاضله) ده چي اوس د اروپا خلکو منځ ته راوايستله، نو په مدنيت کښې وطن ډېر اهميت ميندلی دئ، او نن ورځ ګويا ټوله انسانان په وطنيت وياړي.

ج _ سياسي او بين المللي ژوندون :-

د ملتو يو د بله د خپلوۍ او ميني روابط او مناسبات هم د تمدن يو ښه اثر وي، ملتونه په مدني ژوندون کښي ډول ډول روابط سره لري، مثلاً يو د بله سوداګري سره کوي، يو د بله علمي چاري سره زده کوي، يو د بله په حياتي چارو کښي کومك او تعاون سره کوي، يو دولت يو شي لري، ها بل دولت بل شی لري، دا يو خپل متاع او مال ورکوي، ها بل بيا د خپل هيواد مالونه ورته په عوض کښي ليږي، دا روابط دومره ټينګ دي، چي نن ورځ ئې اولسونه و هر راز کومك او خپلوۍ ته اړ دي. که يو ملت و ماشين او وسلې ته اړ وي، او پخپله ئې نسي جوړولای ها بل ملت چي دغه جوړولای سي هم و اومو موادو ته اړ وي نو دا اړتيا ګويا يوه طبيعي اړتيا ده، چي ملتونه ئې سره کوي. د دغه چارو د سمولو او بين المللي اړتياوو د هيسته کولو دپاره ملتونه سياسي روابط سره لري، او بين المللي جرګې او مرکې جوړي سوي دي چي په دغو وسلو سره ملتونه يو د بله خپلوي لري، او خپل احتياجات رفع کوي.

که څه هم انسانان او اولسونه يو د بله و جګړې ته هم اړ کيږي، او هر څوك غواړي چي خپل حقوق او ښېګړي وساتي مګر روغه او صلح هم د تمدن يو اساسي ټوك دئ، ملتونه د روغي دپاره په سياسي مرکو او بين المللي جرګو کښي زيار کاږي او حتی المقدور نه پرېږدي، چي انسانان يو د بله ويني توی کړي ... !بين المللي جرګه ددغه مطلب دپاره لمړی وار د امريکا د رئيس جمهور ويلسن په توصيه په ۱۸۳۰ کال په ژنو او بيا په ۱۸٤۳ په لندن کښي جوړه سوه.

علاوه پر دغه ملتونه زيار کاږي، چي يو د بله د ګډون روابط ډېر کړي، نو يو د بله ورزشي مسابقې کوي، د سکارټ ټولني، او د زده کوونکو هلکانو ټولني، يو د بله مملکتو ته سره استوي، سياسي سړي هر کله په هيوادو کښي ګرزي، چي ملتونه يو د بله سره خپل او نژدې کړي.

تمدن د انسانانو د ګډون او نژدې والي دپاره نور ښه وسايل هم ايجاد کړي دي، مثلاً د تګ او راتګ دپاره داسي وسايل سته، چي خورا ژر انسانان له يوه ځايه بله ځای ته بيايي، پخوا خو دغه وسايل نه وه، نو انسانان هم خورا سره ليري وه، د خپلوۍ روابط ئې نه درلوده، يو د بله ئې نه سره پېژندل، مګر مدنيت دغه بېګانګي د بشر له منځه ورکه کړه، اوس ټوله ملتونه يو د بله ښه سره پېژني، يو د بله په اخلاقو او عاداتو او يو د بله په ديانت او مليت ښه خبر دي.

اخبارونه، مجلات، ټيلګراف، راډيو، بي سيم، د بين المللي ارتباط ښه وسايل ګڼل کيږي او په دغو وسايلو نن ورځ انسانان د ګډون او تمدن حد ته رسېدلي دي، او بين المللي او سياسي ژوندون ئې لوړتيا ميندلې ده.

اوس چي يو نطاق او ويونکي مثلاً په لندن يا امريکا کښي وينا کوي موږ ئې په راډيو کښي دلته پخپل کور کښي اروو، دا وسايل تمدن موږ ته راکړي دي که نه وي، موږ خو پخوا له اسيا نوره مځکه نه پېژانده، او نه موږ چا پېژاندو.

(د) روغتيا :-

هر څوك په دې پوهيږي چي پر دې نړۍ د سړي دپاره هيڅ خوښي او سعادت بېله روغتيا نسته، هر څه دي وي چي د سړي بشر نه وي روغ د دنيا ښادۍ هيڅ دي. نن ورځ متمدن اولسونه او ژوندي توکمونه ټوله په دغه وينا ښه پوهېدلي دي چي بېله روغتيا به هيڅکله يوازينۍ او ټولنۍ خوښي او ښادي ونه ويني، ولي چي روغ روح او عقل هم په روغ بشر کښي وي. ناروغه بشر پر نړۍ د بري مخ نه سي ليدلای د هر توکم سړي چي ناروغه وي، هغه اولس هم ټوله ناروغه دئ، او هر کله به په خواري ککڼ وي، نو د دغه لامله نن ويښ اولسونه هغه چمو ته چي د بشر روغتيا په ساتله کيږي، ډېره پاملرنه کوي، ورزش او بدني لوبي ډېروي، د لوبو ټولني جوړوي، چي روغ او غښتلي زلمي ومومي، او د ټوله اولس بشرونه روغ او مړوچي وي. ويښ ملتونه کورټ ناروغۍ پخپل منځ کښي نه پرېږدي، او هر کله په دې زيار کښي دي، چي هر راز ناروغۍ د دوی له منځه ورکي سي، يوازی د دارو او

دوا په سبب نه بلکي په ډېرو علمي چارو ئې ډېر مرضونه له خپلو مېنو څخه ورك کړي دي.
د هستوګې ځايونه پاك ساتي، د چښنګ اوبه په صحي ډول تهيه کوي، خيري او مرداری او ګندګۍ کورته نه پرېږدي، هيڅوك داسي چاره نه کوي، چي خپل يا د بل چا روغتيا ته تاوان ورسيږي.
تر دغه لا لوړ اوس مدني انسانان په روحي ډول او معرفت النفس له خوا هم ځني عقلي او فکري مرضونه د تلقين په ډول علاج کوي، لنډې دا چي په هر چم کيږي، دوی مرض او ناروغۍ په خپلو مېنو کښې نه پرېږدي، شفاخاني او د روغتيا ځايونه په هر ښار کښې ډېر دي، چي وږيا و ناروغانو ته دارو ورکوي، او د دوی پالنه په ښه ډول کيږي، د انسان د تمدن لمړنی اساس خو هم اوس دغه دئ او د اولسونو لوړتيا او ځوړتيا هم په دغه اړه لري. روغ او غښتلي اولسونه، تل غښتلي دي او هيڅوك پر دوی برى نسي ميندلاى.
(هـ) علمي ژوندون :-
د انسان پوهني د تمدن د لوړتيا سره سمه لوړتيا او ډېرښت کړى دئ، په لومړيو زمانو کښې فلسفه ځني ابتدائي معلومات وه، د ارسطو تر مړيني پوري فيلسوف هغه څوك ګڼل کېدئ چي د خپلي زمانې ځني معمولي معلومات ئې درلوده. تر ده وروسته اندرنيکوس د ارسطو معلومات سره يو ځای کړه، او د لوړي فلسفې او ماوراء الطبيعه څخه ګڼ سو. په خواصو کښې د شيانو ئې فکر کاوه، او فيزيك ئې جوړ کئ، تر دې وروسته نو ورو ـ ورو علم بل راز سو، او مخ پر لوړه ولاړ، او طبيعي علوم سره سم سوه، فيزيك چي د انسان د علمي ژوندون سره روغ وْ، څه نه څه ژوندی سو، او په دې فن کښې ډېر پوهان راووته، په منځنيو پېړيو کښې که څه هم په اروپا کښې د مسيحي دين روحانيون د علم او فلسفې مخالف وو، مګر د ايشيا څخه مسلمانانو د علم او پوهني رڼا پر اروپا واچوله، او هغه بيده دنيا ئې ويښه کړه دوی د تمدن لاري او د علم د خپورتيا چاري اروپا ته وښوولې، څو چي ورو ورو اروپا هم ويښه سوه او مادي علوم ډېره سوه، او د علم ستړه له عقلي او ذهني کلياتو څخه په تجربه او استقراء کښېښوله سوه، اروپا طبيعي او تجربي علمونه خپاره او ډېر کړه، او تجربه ئې د خپل مدنيت اساس وبلله، بيکن انګليسي عالم د خپلو منطقو په کتاب کښې ويل چي تجربه د حقايقو د پوهني لمړی وسيله ده، په دې ډول علم بشپړ سو، او مشهور پوهان لکه : دکارټ، پاسګال، کپلر، نيوټن، ګاليله، لاپلاس او نور ښکاره سوه، چي وروسته نو د نونسم قرن په پای کښې علم او عمل دواړه و خورا لوړتيا ته ورسګېده، او د انسان عملي ژوندون چي د علم سره ګډ سو نو ئې نوی اختراعات وکړه او دا اختراعات دومره ډېره سوه چي اوس موږ دې پېړی ته د اختراعاتو پېړی هم ويلای سو. د دې مدني پېړی نوي اختراعات ټوله پر علمي اصولو بناء دي، او د طبيعي قواوو څخه کار اخيستل کيږي، طياره، رهېل، جهازونه، ټيلګراف، راډيو، او نور د دې پېړی اختراعات دي چي تمدن ئې و خپلي لوړتيا او بشپړتوب ته رسولی دئ.
علم څه شی دئ؟
د دې پوښتني ځواب که څه هم ډېرلنډ دئ مګر د دې دپاره چي د اوسني تمدن اساس پر علم ټينګ دئ، ښايي چي لږ څه پکښې وږغيږو، منطقي پوهان وايي ، چي په ذهن کښې د شيانو تصوير علم دئ، چي حصولي او حضوري اقسام ولري، د دې زمانې پوهان د موجوداتو د واقعي ډول پوهنه علم بولي، او وايي چي پوهنه درې برخي لري ، سطحي، علمي، فلسفي.
سطحي علم هغه اطلاعات دي چي د تجربې او نقل او ليدلو او حواسو له خوا وميندلی سي، لکه چي هلك اوبه په ليدلو سره پېژني، اما خواص او اجزا ئې ندي ورمعلوم. دوهم علمي، پوهنه هغه ده، چي هغه د انسان سطحي معلومات ډېر سي، او بشپړ سي، دا ډول پوهنه هم په مشاهده، او حافظه او استعداد اړه لري، مګر په دې زمانه کښې د علم تعريف په دې ډول کيږي :
علم هغه اجتماعي پوهنه ده چي د انسانانو د مختلفو افکارو څخه زيږېدلې ده يعنی د انسان ذهني کلي

اصول او اساسي قوانين د ژوندون پر مقتضياتو برابر، او د چاپېر (محيط) سره سم ورو ورو بشپړ سوي، او دا اوسنی علم ځني جوړ سويدئ. د فرانسې مشهور فیلسوف پاسګال هم دغسي وايي، چي د انسانانو علمي معلومات داسي دي لکه يو سړی چي څو پېړۍ ئې پر دنيا ژوندون کړئ وي، او هر کله زده کړه کوي نو ښکاره ده چي د دې سړي پوهنه هرکال ډېرېږي. په دغه ډول علم هم
بشپړ توب کړي، او د انسان اجتماعي معلومات د علمي کلياتو په ډول
منځ ته راغلي او وروسته تر منلو او تجربې د عمومي اصولو په څېر
ښکاره سوي دي. نو له دې جهته اوس علم يوه اجتماعي پوهنه ګڼله کيږي.

اوسنی علم پر ښکاره حقايقو بنا دئ، او د علت او معلول په چارو کښي ګډ دئ، نن ورځ تجربي علوم لکه فيزيك ، شيمي، نجوم او نور ټوله د فعل او انفعال بحث کوي، مثلاً که يو کانی شی تود کو، نو منسبط کيږي، نو د انبساط او حرارت تر منځ يوه رابطه سته، که فلزات تاوده سي، خپورتيا کوي، او که د فلزاتو خپورتيا راسي، حرارت ځيني مينده کيږي، نو علماء حرارت علت بولي او انبساط معلول ګڼي، په دې ډول نو نوی علم ټوله د انسان د فکري قواوو مرتبه او منظمه نتيجه ده ، چي کلي قوانين او د موجوداتو علل او روابط ښکاره کوي، او له دغو تحقيقاتو څخه د انسان د ژوندون د ښېګړو دپاره کار اخلي، او تمدن هم لوړوي او بشپړه کوي ئې.

(ز) اختراعات :-

د انسانانو معلومات ورځ تر ورځ ډېرېږي په هره اندازه چي د انسان ذهن په تجربه او تجزيه بُخت سي، په دغه ټکانه هم مجهولات هم لوړيږي، اختراع هم دغه ته وايي چي د طبيعت موجوده قوتونه سړی استعمال کړي او پر بله خوا ئې راواړوي، او کار ځني واخلي، اختراعات د تمدن روح ګڼل کيږي، او پر دوه ډوله دي :

لمړۍ تصادفي او د پيښې اختراع، دوهمه علمي اختراع، پخوا به اختراعات ډېر ځله د پيښې په ډول کېده، په ژوندون کښي به پر انسان ناڅاپه يو نوی شی پېښ سو. مګر د اوسنۍ دنيا اختراعات ټوله علمي او پر اصولو باندي بناء دي، د دې وخت مخترعين سليم عقل او پوهنه لري، چي د طبيعت له قوتو څخه استفاده کولای سي، او علمي خوند دوی د اختراع خواته بيايي. د فرانسې مشهور رياضی پوهېدونکی هانری پوانکاره هم دغسي وايي، چي د نن ورځي پوهان د خپل علمي خوند له خوا په پلټنه پيل کوي، دا پلټنه د ګټي دپاره نه ده، بلکي سبب ئې هغه خوند دئ، چي دوی ئې د قدرت د ښايست د ننداري څخه لري.

د نن ورځي مخترعينو کار ټوله د صحيح مټو او اصول له رويه دئ، د امريکا مخترع اديسون وايي چي په سل کښي پنځه نوی اختراعات د زيار له خوا منځ ته راغلي دي.

دغسي هم نن مدنی دنيا د اختراعاتو دپاره ټوله وسائل او لوازم راغونډ کړي دي چي په لويو هيوادو کښي لوی لوی د پلټني ځايونه او د تجربو ځايونه (لابراتوار) سته، چي ټوله علمي اسبابونه پکښي حاضر دي. په جاپان کښي يوه داسي تجربه خانه سته چي (٦٠) زره مهندسين اړه ورسره لري، نو د دې مدني عصر اختراعات اوس د پوهانو په ټولنو او علمي مؤسسو اړه لري، او په متمدنو اولسونو کښي د علمي پلټنو دپاره ډېري موسسې سته، يوازي په اتازوني کښي (١٠٠٠) علمي مؤسسې د دولت په مصرف د علمي کشفياتو دپاره جوړې سوي دي چي مصارف ئې د کاله شل مليون ډالر پوري دي.

په اروپا کښي هم داسي د علمي پلټنو ځايونه خورا ډېر دي، په انګلستان کښي يوه مؤسسه ده چي د کاله اتيا لکه پونډ په تجربو خرڅوي، او ډېر ځله داسي هم پېښېږي چي ډېر مصارف د يوه علمي کار دپاره وکړي او هغه کار هم ونه سي، لکه چي په جرمني کښي يوې د رنګ کولو کارخانې په لمړني تحقيقاتو کښي پنځه مليونه ډالر خرڅ کړه او د ايران د جنوبي تېلو د کشف دپاره دوه انګليسي شرکتونه په لمړنيو مصارفو کښي ډېوالي سوه، څو چي بيا دريم شرکت بری مېندونکی سو، او تېل ئې ومېندله. په دې ډول اختراع د اوسني تمدن لوی ټوك دئ، او

د علم له لاري انسانانو نوی نوی ډېر اختراعونه کړي دي، چي نن ورځ و مدني ژوندون ته ډېر خدمت کوي، او د انسان د ژوندون په سمون کښي بشپړه برخه لري[۱].

[۱] طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمریزکال، پرله پسیګ : ۸، ۹، ۱۰ او ۱۲ ګڼي.